**لیکونکي:** میخایل پیزی (Micheal Pizzy).
**منبع اودنشر نیټه** : انتی وار «۲۰۱۵-۳۱۰۷ »
**ژباړونکي** : پوهندوی دوکتور سیدحسام «مل».
-------------------------------------------------------

# دطالبانو د روان بحران اوکړکیچ څخه داعش به غټ ګټونکی وی

*ISIL could be the big winner of Taliban Leadership crisis*

## *دملاعمر مړنه داعش دپاره به یوغټ سوغات وی کوم چی ممکن هغه جهادی سړی دطالبانو مشری تر لاسه کړی چی دداعش دپاره وفادار اووسی*

*لاتراوسه دملاعمر دمړنی خبری اوپیغامونه دافغانی طالبانو دانشعاب ګری او د دوه ټوټه کیدونکو پلویا نو کوم چی د رارسیدلی راپورونو له مخی دطا لبا نو دشورا له طرفه دملاعمر پرځای ناستی باندی په هیواد کی ګټه پورته کونکی ډلی او اشخاصو کاری وری ځا نته لارباسی چی د طا لبا نو مشری ترلاسه کړی اما د ملاعمر مړنه کوم چی هغه له دواړه اړخه څخه څه دمعنوی اویا څه دنظامی له پلوه یومتعهد قوماندان اومشر وه او دآسیا په جنوب کی دپوره شهرت خاوند وه ، نو دهغه ځای ناستی یا دهغه په جا نشینی کی باید داسی یوشخص وټا کل شی چی هغه په منطقه کی ددی توان ولری چی دقوتونو په سمبالولو اودهغو په غښتنلتیا کی لاس بری ولری او هم څه دعراق وشام په اسلامی دولت اویا دداعش درهبری په کړیو کی دپوره ملاتړ خاوند اووسی.*

*دجنوری دمیاشتی دورستیو وختونو څخه را ورروسته کله چی دداعش ډلی اوټپلی دافغانستان اودپاکستان دپولو تر مینځ په آزاده سیمه کی کوم چی دخراسا ن دولایت په نوم سره یادیږی چی داپخپله یولرغونی نوم دی اواوس دغه سیمه ددواړو هیوادونو سره پولی جوړوی مخکی دپاکستا نی طالبانود قوما ندانانو ترولکی لاندی پروت وه . اما اوس داسی ویل کیږی چی په دغه سیمه کی افغانی اوپاکستا نی طا لبا نو کوم چی د ملا محمد عمر دګوښه کیدو څخه له جنګ اوجګړی څخه ناراضه شوی دی او خپل هوډ اوایما ن دلاسه*

ورکړی دی دا هغه مطلب دی چی په دی روانه هفته کی یوافغانی رسمی سرچینی په ډاګه کړ او هغه داچی ملا محمد عمر له نن څخه دوه کاله دمخه یعنی په کال (۲۰۰۳) کی له دی نړی څخه سترګی پټی کړی او په حق سره رسید لی دی نو دهمدی خبری په اوریدو سره اوس د ملا عمر ډیری پلویان خپل وفاداری د داعش د ډ لی سره د خلیفه ابوبکر البغدادی تر مشری لاندی اعلام کړی دی .



**ملااختر محمد منصور د افغانی طالبانو نوی شبهه نظامی مشر**

اوس یوشمیر تحلیل کونکی کوم چی دملاعمر دمړنی په هکله سره په شک اوبد ګمانی کی وه ، طالبانو دهغه مړنه دپنجشنبه په ورځ تاید کړل. کوم چی دغه خبرتیا دا سی زمینه رابرابره کړل چی د یوشمیر ډ یرو طا لبا نو او حتی دالقاعدی دجنګیالو په مخ د تیښتی دروازی پرانیسل اود مذهبی اړیکو په نظر کی نیولو سره خپل بعیت او خپل وفاداری ددغه نوی شبکی سره اعلام کړل اود ملاعمرترمشری لاندی د فرعی قوماندانانو پیوستون ددغه نوی شبکی سره یولړ سوالونه رامینځته کوی .

دملا عمر مړنه دیولړ جهادی لویوو مدرسو دمنسوبینوپواسطه سره اسلامی نړی ته دیوویرونکی څړیکی په بڼه خپور شو اوبیا په تیره دهغه دمرګ آوازه د طالبا نو اوالقاعدی پر ډیرو غړو باندی خپل سخته اغیزه وغورځول داهغه خبرتیا دی کوم چی «حسن حسن» د داعش پرډ لی با ندی د یوکتا ب مولف د«چاتم هوس Chatham House» دتنویر دخونی د یو شخص د خولی خبری په پورته بڼی سره بیان کړ .او هغه داچی دغه دواړه ډلی ټپلی تر یولړ زیات فشارونولاندی له هغه وخته چی البغدادی په عراق اوسوریه کی دخپل خلافت اعلان کړی دی پریوتی دی .**البغدادی هغوداوړدی مودی په خوب تللی القاعده غړو ته په مستقیم بڼی سره داسی دیو چلنج په توګه ویلی چی ودریږی نور مه خوځیږی !** همدارنګه هغه د خپل نظامی ملګرو وروستی بریالیتو بونه وستا یل کوم چی دهغه تر مشری لاندی دنړی له هر ګوټه ډلی ډلی نوی غړی دهغه دشبکی په لیکو کی سره د هر یورځ په تیرید و سر ه راغونډ یږی ، د داعش یا دعراق وشام داسلامی دولت چلنج د نورو سا زمانونو غړو ته د خپل سمپټی یا لورنه ښکارول نه دی بلکه پرهغو باندی غږکول دی چی دخپلو ګروپونو سره زمونږ په لیکو کی ودریږی اوسره راغونډ شی اوله بلی خوا په عین وخت کی «حسن » دخپلوخبروپه دوام کی یوه بله ټکی هم راڅرګندوی اوهغه داچی البغدادی دخپل حرکت یا سازمان ته یوه بله نوم د ( Islamic state of Iraq and the levent Group « ISIL ») په مخفف سره ورکړ . هغه څه چی دهغه یادونه دلته ضروری ګڼل کیږی هغه دادی چی دملا محمد عمر د مړنی څخه وروسته دداعش ډلی ټپلی ته طلایی چا نس په لاس ولویدلی دی اوهغه دا چی ډیرو هغو دالقاعدی اودطالبانو غړو چی دداعش ګروپ ته سمپټی یا خوشبینی لرل اوس دداعش په لیکو کی ځای پرځای کیږی .

را روانه بحران اوګډوډي شاید چې دداعش پرسیال القاعده اودهغه په لوی پیر او نیکه باندی زیات ډیر په شدت سره تاثیر غورځولی وی یعنی پرهغه چا کوم چی هغه له خپل دندی څخه له هغه وخته چی په کال (۲۰۱۳) کی دهغو په سازمان کی یولړ تکتیکی اودرهبری پرسر باندی منازعات اوکشمکش پیدا شو تنزیل مقام کوی اودسازمان یوی څنډی ته ټیل وهل کیږی .

له بلی خوا څخه په دی تازه وختونو یعنی له پرسږکال څخه راهیسی د القاعدی مشر « ایمان الظواهری» یعنی هغه څوک چی دالقاعدی د بنست ایښودونکی« اوسامه بن لادن » سره کلونه کلونه په یوه پټن ځای کی سره ژوند کړی دی خپل له سره وفاداری ملا محمد عمر ته اعلام کړ هغه یعنی الظواهری په یوه ویډویی کست کی د خپل سازمان دیوی څانګی دپرانیستلو خبر چی په هندوشتان کی پرانیستی وه د مید یا دلاری پواسطه سره نړیوالو ته خپور کړ، په هرصورت :که چیری د ملاعمر دافغانی طالبانو مشر د مرګ اود مړنی خبر کوم چی افغانی رسنی په ډاګه کړ چی ملا عمر دوه کا له د مخه د کراچی په یو روغتون کی مړ شوی دی واقیعت ولری نو په هغه صورت کی الظواهری خپل وفاداری مړی ته اعلان کړی - نو ددی خبرو څخه داسی را ښکاری چی الظواهری یا ځان په بی خبری کی اچوی یا داچی خپل دوه مخی راښکاره کوی هسی نه چی هغه ملا عمر خپل پیروانوته عزیز اوملګری معرفی کړی .

« حسن » وویل چی اوس دټولو خلکو سترګی افریقا ، جنوبی ختیځ آسیا اومرکزی آسیا ته اړول شوی چی داعش دخپل مبارزی سره د سنتی القاعدی کوم چی داعش ته خپل وفاداری ښکاره کول په نوموړو منطقو کی ځا نته په څه بڼی سره دپښي ځای پیداکوی یعنی دالقاعدی دغړو په همکاری سره په نوموړی برخو کی څنګه ځای په ځای کیږی . لیکن دا هم له حقیقته به لیری ونه اوسیږی چی حتی دالقاعدی په ډیرو آزادو ګروپونو کی دملاعمر دمړنی له کبله به ځنی فکری تغیرات راغلی نه اوسی ، یا داچی په سوریه کی د نصر په جبهه اودعربو په وچه کی دالقاعده سازمان یعنی په دواړو کی کوم چی دهغو مقعر په یمن کی دی خپل وفاداری ملامحمد عمر ته څرګند ونکړی ( لکه هغسی چی الظواهری په جعلی بڼی سره خپل وفاد اری ملا عمر ته ښکاره کړی وه ) نو په دی بنیاد سره اوس داعش غواړی چی دافغانستان په

لور په حرکت ولویږی ، داعش یا دهغه مشر د خپل ادرس په معرفی کولو سره دیو اعلامی په ترڅ کی ځپلو هغو پلوایانو اویا هغو ته چی خپل مذهبی اړیکی سنی مذهب حنفی باور لرونکو پوری تړی کوم چی ا فغا نی طالبانو دهمدی ډول د عقیدی خاوندان دی هغوی یی دخپل خلافت تر چتر لاندی را وبلله چی دداعش سره رانژدی شی . د رارسید لی راپورونو پر بنیا د اوس دخراسان په ایالات کی دداعش ډلی دطالبانو د ځنی سخت دریځو ډلو ټپلو سره دځنو کلو اودباندو درانیولو پرسر جګړه را روانه دی کوم چی د ننګرهار په ختیځه برخه کی دخراسان لوړپوړی قوماندان «حفیظ سعید خان» د امریکی دمتحده ایالاتو دبی پیلوټو الوتکو د بمب غورځونی له امله مړ شو اوله دی دنیا ځخه سترګی پټی کړ داځکه چی واشنګټن دچآ به خبره په قهر اوپه غضب شوی وه چی داعش ولی په داسی یو بل ځای کی ځان ته دپیښی ځای پیدا کوی کوم چی امریکا په دی تازه وختونوکی له هغه هیواد ځخه پښی را سپکی کړی دی – دداعش دچلنج ځخه سربیره دطالبانو ناظرین اولیدونکو د هغه نوی پښو دراپیښیدو په انتظار کی وختونه تیروی کوم چی دهغو په مینځ کی دنوی رهبری د ټاکلو پر سر دوه دستګی را ولاړ شوی دی اوهمدارنګه هغوی دبلی خوا ځخه د یولړ سوالونو سره مخامخ شوی چی ایا دطالبانو اودافغان د منفور اورټل شوی دولت کوم چی دامریکی دمتحده ایالاتو له طرفه یی ملا تړ کیږی دسولی مذاکرات به ترسره کیږی اویا داچی د طالبانودنوی رهبری دټاکل کیدو ځخه وروسته دسولی مذاکرات په ټپه دریږی داهغه سوالونوه دی چی دټولو سترګی دهغه پایلی پوری اړول شوی دی بل مهم خبره داچی په دی هفته کی افغانی طا لبا نو د یو جلسی په ترڅ کی « ملا اختر محمد منصور» د خپل مشر اود رهبر په صفت وټا کل او دبلی خوا ځخه د رویټردخبرپه حواله دملا محمد عمر دورور ځوی ( یعنی دملاعمر وراره) یوبله کا ند ید یا نومان دی کوم چی هغه غواړی د طا لبا نو مشری ترلاسه کړی .

اوس اوس داسی را په ګوته شوی اویا داسی رابنکاری چی دطالبانو ځنی سرسخت او بد بین ډلی سره داسی پریکړه کړی چی دافغان دولت داشرف غنی داداری سره د سولی خبرو ته نه غواړی چی کیښینی که نه دسولی دمذاکراتو دوهم پړاو چی نن جمعه دی باید په پاکستان کی ترسره شوی وای چی وځنډیدل اوغونډه ترسره نشو د ځنو سیا سیی کارپوهانو د تحلیل پر بنیاد

دلته دوه ډله طالبان په دوه نظر اوفکر سره پخبلو مینځوکی سره ویشل شوی دی یو هغه ډله چی نه غواړی جګړه ودریږی او دافغانی دولت سره پخلا شی بله هغه ډله چی دملاعمر دریښتنی اویا د ساز کړ شوی اعلامیی کوم چی مذاکرات دشریعت له لحاظه جایز ګڼل دی غواړی چی دافغان دولت سره دسولی مذاکرات ترسره شی. په هرحا ل د تیرو ورځو دواقعاتو په نظر کی نیولو سره ټولو خلکو واوریدل او هغه دا چی ملا محمد عمر دافغانی طالبانو مشر دجولای په (۱۵) نیسته کی یو پیغام چی ممکن هغه پیغام خپله ملا عمر تنظیم کړی اویا یی لیکلی وی اویا داچی په ساختګی بڼی سره دبل چا له خوا ترتیب شوی وی دطالبانو ویب پاڼی ته د نشر دپاره لیږل شوی وه چی هغه پیغام نشر ته ورسید کوم چی دهغه پیغام په متن کی داسی راغلی وه :
مونږ جګړه او مذاکره دواړه همزمان په موازی بڼی سره مخ ته وړو . داهغه څه وه چی دمذاکری دپاره لاره آو اره کړ اوپه طالبانو کی یولړ ګونګسی را اوچت شو

د «ملاعمر» د مړنی څخه کله چی خلک وپوهید چی هغه دوه کاله د مخه مړ شوی دی اودهغه دا پیغام په دی تازه وختونو کی نشر شوی دی نو ډیرو ته داسوال راپیدا شو چی د چا په خبره ممکن چی دا پیغام دهغه د قبرڅخه دطالبانو ویب پاڼی ته د نشر دپاره لیږل شوی وی ، اګرچه دځنو ډیرو طالبانو دپا ره دهغو درهبر دغه دوه کا له چوپتیا او بی خبری دهغو په ذهن کی یولړ سوالونه را وچته کړی وه او هغوی د ځنو دلایلو پر بنیاد نشو کړلی چی دخپل رهبر ددغه دوه کا له د خاموشی سوالونو ته ځوا ب تر لاسه کړی دګڼ شمیر سوالونو په نظر کی نیولو سره دبعضی طالبانو سره دا پوښتنه هم را پیدا شوی اوهغه داچی دغه لوبه شاید چی دداعش له خوا ترسره شوی اوسی کوم چی هغوی ددوه کا لو د پاره په بی خبری اوترږمی کی سا تل شوی دی داهغه مطلب دی کوم چی میخایل کوږلمن ( Kugelman) د جنوبی آسیا دحالاتو کا رپوه دویلسن په مرکز دواشنګتن« ډی سی» په ښار کی لیکوال اوژرنالیست هغه دخپل خبرو په دوام کی زیاتوی چی البغدادی په دی هڅه اواند کی شو چی خپل ځان دملاعمر جانشین ددی اصل په پیروی چی هغه لکه ما غوندی یو با ایمان اوریښتین مسلمان او پیشوا وه دځنو ناراضو شبهه نظامیانو پام ځان

ته واړوی .

-------------------------------------------- په درناوی